مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۱/۰۶/۰۵

# عمرزي، د عمر پور پوره کړ



په هیواد کې بد رنګې جګړې او په نړۍ کې د ټکنالوژۍ پرمختګ، د قلم کارول اوس د زیني لاندې پاټکي ته را کوز کړيدي. د پاخه عمر خلک یې د ناچارۍ له وجې کاروي، ځکه چې د کمپيوټر سره چندان اشنايي نه لري. د مال او وجاهت خلک یې د سينګار په بڼه په مخامخ جيبونو کې ټومبي او یواځې د لاسليک لپاره یې راباسي. ځموږ د چپه کاکول ځوانان د قلم په ځای د ټوپک ډير شوقيان دي ځکه حورو ته یې بيړه ده؛ ښاريان مو بيا آی فون او ليپ ټلپ خوښوي چې د عصريت نښه ده. خو يو تن چې تل يې د قلم د اهميت خبره کوله، د قلم نوکه يې د ټوپک څخه اغيزمنه بلله، بلکې ټوپک يې مرګ او قلم يې ژوند ګڼلو، هغه مصطفی عمرزی وو. هغه له کرکې، کرکه لرله او تعصب ورته له ایدز او سرطان څخه هم خطرناک مرض بریښیده.

عمرزي نژدې اویا کتابونه ليکلي او ژباړلي دي چې د هرچا د وس او حوصلې خبره نه ده. د پردي پالو د پليتو ارادو او شوونستانو په وړاندې د تاترې او تراجمير په څير کلک ولاړ وو. هغه د ملي هويت، ملي رسالت او ملي ارزښتونو يو وياړلی ترجمان او وړيا مدافع وکيل وو. د درونډ شاليد ترڅنګه يې ځلانده ليد لوری درلود او په دې لاره کې د چا د ګيلو او تومتونو پروا ګير نه وو. خو دريغه دريغه! که هغه د بلې ژبې سړی وای، نو اوس به د رسنيو په سټوډيوګانو کې د دوئ په اصطلاح د «پژوهشګرانو» اتڼ جوړ وو.

ما هيڅکله اروابناد عمرزی له نژدې څخه نه وو ليدلی، ولې دوه ځلې مې ورسره په ټليفون کې خبرې کړې وې. د هغه له اعتماد څخه ډکه لهجه، له وطن سره مينه او د نوي کول د سرګردانه چاپيرياِل په اړه ژوره انديښنه، د هغه د درونډ شخصيت ښکارندوي کوله. اته ديرش کلن مصطفی عمرزي د خپل غښتلي قلم له لارې، د ليکنې او څيړنې داسې خزانه ترشا پرېښوده چې د روڼ آندو لارويانو تنده ماتولې شي. د سپيڅلي جهالت په دې تورو وريځو کې د دغسې انسان مرګ، يوه ستره ضايعه بولم.

ستر خالق تعالی دې د هغه اروا، ښاده او ياد تل تازه ولري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ